# ژوند په سکاټلینډ کې

scottish refugee council

OISC

اپریل ۲۰۱۱

Life in Scotland - Pashto

HAPPY TO TRANSLATE

په سکاټلینډ کې د ژوند نوي لاري سره سمون کول کیدای شي وخت ونیسي.

دا پاڼه د دې لپاره ده چې تاسوسره په سکاټلینډ کې د ژوند کولو په اړه کمک وکړي.

دا د بعضي دودونو، برخورودونو، قوانین او لایحو په اړه لنډ مالومات آماده کوي چې شاید ستاسو هیواد سره توپیر ولري.

**د قانوني عمر محدودیتونه**

په عامه توګه د خلکو لوی والی یا قانوني عمر له ۱۸ کلنی وروسته کتل کیږي. په هر ترتیب، د ځانګړو کړنو لپاره قانوني عمر په لاندې ډول کیدای شي:

- د الکول څښل- باید ۱۸ **کلن** یا لوی وي
- د تمباکو(سګرټ) څښل- باید۱۸ **کلن** یا لوی وي
- د ډریوری لیسنس لاسته راوړل- باید ۱۷ **کلن** یا لوی وي
- د زدکړې پریښودل- باید ۱۶ **کلن** یا لوی وي
- جنسي رضایت(اړیکي)- د جنسي اړیکو درلودلو لپاره باید۱۶ **کلن** یا لوی وي

**کوچنیان**

- مور او پلار تر د ۱۸ کلنی پورې د خپلو کوچنیانو مسؤل دي
- تنکي ځوانان نه باید په عامه ځاینو یا کور کې یوازې پریښودل شي.
- د کوچنیانو وهل یا رټل جواز نه لري



**د سګرټ څښل**

- دا ښنه چې هرچیرته وي، د سګرټ څښل هلته ممنوع دي
- د سګرټو څښل په عامه ځاینو کې دننه او نږدې اجازه نه لري، په شمول د؛ دفترونو، رستورانتونو او سینماګانو کې
- د سګرټو څښل په ممنوع چاپیریال کې کیدای شي د جریمي سبب وګرځي
- د سګرټو څښل په آزاده فضا کې جواز لري، ستاسو خپل کور یا خپلې د نقلیې وسیلې کې، په بل ډول بیا ستاسو د نیک(کور مالک) په واسطه مشخص شوی وي یا د نقلیې وسیله یوازې د سوداګرې اهدافو لپاره استعمالیږي

**الکول**

- د الکول څښل په عامه ځاینو کې لکه کوڅې او پارکونو کې ممنوع دي. په څښلو يې شايد جريمه شئ.

**چاقوګان (چاړې)**

- په سکاټلينډ کې د چاقو ګرځول غيرقانوني دي. که تاسو د پوليسو په واسطه ودرول شئ او چاقو ګرځوئ، نو شايد چې تاسو بندي شئ.
- په ښوونځيو کې چاقو درلودل ممنوع دي.

**شيندل**

- په کوڅه کې د چټليو يا بې ارزښته څيزونو شيندل يا غورځول کيداى شي د ۵۰ جريمې سبب وګرځي.

**تبعيض**

- د چا سره مختلف برخورد کول يا د چا پروړاندې د عمر، ناتواني، واده او يوازې والی، حمل او مورنې، نژادي، مذهب او باور، جنسي يا جنسي ګرايش تبعيض غيرقانوني دی.
- ازارول غيرقانوني دي او کيداى شي قانوني تعقيب ولري.
- که تاسو احساس کوئ چې ازارېږئ، په دواړه ډوله لفظي يا فزيکي، نو تاسو بايد د پوليسو سره اړيکه ونيسئ. تاسو کولای شی په سکاټش رفيوجي کونسل کې د کمک لپاره چاسره وغږيږئ يا په دې شميره ۰۸۰۰۰۲۷۳۹۰۱ د ټولنی-ضد برخورد فعاليت څواک سره اړيکه ونيسئ.

**د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالی**

- د ښځو پر وړاندې تاوتريخوالی کې کيدای شي شامل وي: کورنی ګټې(سو استفاده)، جنسي تيری، جنسي حمله، فحشا، جنسي استسمار يا قاچاق، ماشومتوب جنسي ګټې، ښځينه تناسلي آلې تحريف، په زور واده او بې عزتې جرمونه.
- د سکاټلينډ ټولې ښځې او انجونې قانوني حق لري تر څو د ښځو پروړاندې هيڅ ډول تاوتريخوالي ښکار ونه ګرځي.
- کورنی ګټه اخيستنه کيدای شي فزيکي، جنسي، رواني يا مالي ګټه(سو استفاده) وي.
- د هر چا لپاره چې کوم ډول تاوتريخوالی يا کورنی ګټه ترې اخيستل شوې وي، اعتمادي مرسته او ملاتړ شته.

**مرسته اولارښود له ارګانونو څخه چمتو دی لکه:**

- د سکاټلينډ ښځو د کورنی ګټې اخيستنې ملاتړ کمکي شميره: ۰۸۰۰۰۲۷۱۲۳۴ (۲۴ ساعته)
- د ملي جنسي تيري او جنسي حملې مرستندويه شميره: ۰۸۰۸۸۰۱۰۳۰۲
- آرکوی ګلاسګو: ۰۱۴۱۲۱۱۸۱۷۵

**په دودونو کې توپیر او د منلو وړ چلند**

کرچه ځيني چلند د قانون تر پوښښ لاندې ندی راغلی، د سکاټلينډ دودونه او توقعات شايد ستاسو هيواد سره توپير ولري، هغه شايد دا وي:

- د يوه هيواد نه د بل هيواد شخصي خلا او فزيکي اړيکو توقعات ليرې دي. په انګلستان کې په عامه توګه خلک توقع لري چي په ټولنه کي د سکون احساس وساتي.
- په لوي ګروپونو کي يوځاى کيدل، په خاصه توګه د ځوانانو، شايد ويرونکی وي.
- د سلام عامه طريقه په انګلستان کې د "سلام-هيلو" ويل او لاس خوځول دي.

**په انګلستان کې ډريوري کول**

که تاسو په انګلستان کي د پټنځای لپاره غوښتنه کړي وي او تر اوسه منل شوی نه وي، نو تاسو به له ۲۵ مارچ ۲۰۱۰ نه لا نور وړ نه اوسی چي په انګلستان کي د ډريوری ليسنس غوښتنه وکړی.

که تاسو يو موټر ته مؤثر لاسرسی لری نو تاسو بايد ولری:

- د ډريوری درست ليسنس
- د موټر بيمه
- درست تصديق چي تاييدوي ستاسو موټر محفوظ دی MOTد
- د سړک د ماليې صحيح پاڼه

- که تاسو له انګلستان نه بهر د کوم بل هيواد د ډريوری صحيح ليسنس لری او د هغي مستند ثبوت، نو تاسو کولای شئ په هغي باندې په انګلستان کي تر ۱۲ مياشتو پورې له کله نه چي داخل شی، ډريوري وکړی.
- که تاسو د موټر چلولو په وخت کي الکول يا مخدره توکي استعمال کړي وي نو د قانوني تعقيب لاندې رازی.

**د تلويزيون ليسن**

- که تاسو تلويزيون لری نو بايد يو د تلويزيون ليسنس واخلئ.
- تاسو کولای شی دي شميرې سره په اړيکه نيولو ۰۳۰۰۷۹۰۶۱۳۱ د تلويزيون ليسنس واخلئ، آنلاين له www.tvlicensing.co.uk يا د دې نښې سره په هر پلورنځي کې: